<u>**مطبوعاتي اعلامیه**</u>

**فلسطین هېڅکله هم د ملګرو ملتونو د حللارو په واسطه نه ازادېږي؛ بلکې د پاکستان د وسله وال فوځ شرعي وجیبه ده چې په فی سبیل الله جهاد سره یې د بریا یا شهادت په موخه ازاد کړي!**



**(ژباړه)**

د ۲۰۱۷م د دسمبر په ۲۱مه پاکستان دولت د ملګرو ملتونو په ملاتړ د هغې غونډې له پریکړه لیک سره، چې امریکا بیت المقدس د یهودي دولت د پلازمېنې په توګه په رسمیت وپېژانده، خپل مخالفت اعلان کړ. په ملګرو ملتونو کې د پاکستان استازې ملیحې لودهي وویل: «د فلسطین د مسلې په اړه د دواړو هېوادونو له حللارو پرته بله حللاره د منلو وړ نه ده» حزب التحریر ولایه پاکستان د فلسطین په اړه د پاکستان د نظامي او سیاسي رهبرۍ دغه دریځ په کلکه ردوي؛ ځکه دغه کړنه د امریکا له سیاست سره موازي ده، چې غواړي یو کوچنی فلسطیني هېواد له

باختري کرانې، غزې ترانګې او د بیت المقدس له یوې ورې برخې جوړ کړي او د اسلامي خاورو په زړه کې یهودي دولت ځواکمن کړي، چې اسلام ورسره هېڅکله تعامل نه کوي.

له بل لوري، مسلمانان هم دومره بې احساسه نه دي چې د ملګرو ملتونو زرینې پرېکړې یې وغولوي، ځکه هغوي د ملګرو ملتونو له واقعیت څخه په پوره ډول خبر دي. له بلې خوا، ملګري ملتونه د امریکا او نورو ښکېلاکګرو هېوادونو وسله ده چې خپلو ناوړه ګټو ته د رسېدو لپاره ترې کار اخلي. همدارازمسلمانان دملګرو ملتونو له پیدایښت نه تر اوسه شک نه لري چې دغه سازمان یې نه یوازې چې ستونزې په ځانکړې توګه د فلسطین او کشمیر د قضیې په اړه نه دي حل کړي، بلکې زیاتې کړي یې هم دي. خو برعکس، کله چې د استعمارګرو د ګټې خبره وې، نو دغه سازمان یې په منډه د تامین لپاره کار پیلوي، لکه څنګه یې چې له اندونیزیا او جنوبي سوډان څخه د لوديځ تیمور د بېلولو په قضیه کې خپل هویت څرګند کړ.

همدارنګه هغه حقیقت د مسلمانانو له سترګو نه دی پټ، چې ملګرو ملتونو، په فلسطین، کشمیر، میانمار، افغانستان، عراق، سوریې او مرکزي افریقا کې د مسلمانانو د ټولوژنې د مخنیوي لپاره هېڅ ډول عملي هوډ او د خدمت رسولو اراده نه درلوده؛ خو د خواشینۍ خبر دا ده، چې مسلمانانو د دغه واقعیت پر پوهېدلو سربېره بیا هم د خاینو حکامو فریب خوړلی. نو دا حماقت دی چې د فلسطین د مسلې د حل لپاره ملګرو ملتونو ته هیله ولرو، ځکه دغه سازمان کفري وسیله ده چې هېڅکله به مسلمانانو ته عدالت تامین نه کړي. په دې اړه الله سبحانه و تعالی مسلمانانو ته داسې ګواښ کوي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ﴾

[آل عمران: ١٤٩]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! که له هغو کسانو چې کافر شوي اطاعت وکړی، تاسو به خپلو مخینه‌وو ته ور وګرځوي او په پای کې به تاوان وکړی.*

ملګري ملتونه د کافرو ښکېلاګرو وسیله ده چې امریکا یې رهبري کوي. نو د امریکا د سیاست پر وړاندې هر ډول اقدام به له چل پرته بل څه نه وي. که د پاکستان او نورو اسلامي خاورو چارواکي په ریښتیا سره د فلسطین د ازادۍ غوښتونکي وي، هغوی باید په ملګرو ملتونو کې پر دغې حساسه موضوع یوازې په ژبه شعار ورنه کړي، بلکې باید یې په اړه اسلامي ځواکونو ته حرکت ورکړي. که څه هم هغوی دا کار نه دی کړی او هېڅکله به یې هم ونه کړي، ځکه هغوی داسې کسان دي چې د کفارو په غلامۍ کې یې عادت کړی دی.

د فلسطین په شمول ټولې اسلامي خاورې به هغه وخت ازادې شي، چې اسلامي پوځونه د الله په لاره کې د جهاد لپاره او د شهادت په شوق یا د بریا په موخه وخوځېږي. دا کار به هغه وخت وشي، چې د نبوت پر منهج خلافت تاسیس شي او د اسلام پر بنسټ حاکمیت وکړي. همداراز د الاقصی مسجد په شمول د ټول فلسطین د ازادۍ لپاره اسلامي پوځونه راغونډ کړي او دغه مبارکه خاوره د یهودو له چټلیو پاکه کړي؛ ځکه اسلام په پوره ډول څرګند کړي، چې د ښکېلاک شوو اسلامي خاورو مسلې په پرېکړه لیک سره نه حل کېږي، بلکې په یوې سختې جګړه سره حل کېږي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ﴾**

[بقره: ۱۹٤]

***ژباړه:*** *هر چا چې پر تاسو تجاوز وکړ، د هغه په څېر پرې تعدي وکړئ!*

**د حزب التحرير- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور گڼه: PR۱۷۰۸۳**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الثاني ۴مه**

**۲۰۱۷م، د دسمبر ۲۲مه**